د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

سه شنبه ۲۰ جمادی الاولی ۱۴۳۹هـ    ۲۰۱۷-۰۲-۰۶م    گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۳

**مطبوعاتي اعلاميه**

## د "اصلاحاتو" تر نامه لاندې له اسلامي عناصرو څخه د امنيتي ځواکونو پاکول

د افغانستان ولسمشر د اردو د ۱۶۴ جنرالانو د تقاعد فرمان لاسليک کړ. دا فرمان په امنيتي سکتور کې د "اصلاحاتو" د پروسې يوه برخه ګڼل شوې، چې په ترڅ کې به يې د امنيتي ځواکونو له صفونو څخه ۲۰۰۰ جنرالان او لوړپوړي افسران ګوښه کېږي.

موږ په امنيتي سکتور کې د "اصلاحاتو" پروسه، چې ظاهراً د ځوان او مسلکي کولو تر نامه لاندې پر مخ وړل کېږي يو بشپړ امريکايي بهير بولو، تر څو د امت د قدرت واقعي مرکزونه، چې په اردو کې راټول شوي، د مصر، ترکيې او پاکستان د پوځونو په څېر د امت او د هغه د ويښوونکو حزبونو له لاسرسي څخه بهر کړي او د دې تر څنګ لاندې څو نورې جزئي موخې هم تعقيبوي:

- له امنيتي سکتور څخه د اسلامي عناصرو او پخوانيو مجاهدينو ګوښه کول؛
- د هغو قومي، قبيلوي او سياسي رهبرانو او متنفذينو قدرت کمول، چې اسلامي احساسات او افکار لري او د دغه قدرت انتقال يوې سيکولر، غربي او د امريکايانو فرمان منونکې اردو ته؛
- د افغان امنيتي ځواکونو له صفونو څخه د امريکا د سيمه‌ييزو رقيبانو د نفوذ له منځه وړل؛

ترڅو په امنيتي سکتور کې د دغو "اصلاحاتو" په پايله کې امريکا وکولای شي، چې يو تابع نظامي ځواک رامنځته کړي او په سيمه کې د راتلونکي اسلامي دولت (راشده خلافت) د رامنځ ته کېدو د مخنيوي او د خپلو سيمه‌ييزو او ستراتيژيکو موخو د لاسته راوړلو لپاره ګټه ترې واخلي.

د افغانستان مسلمان ولس، متنفدين او پخواني مجاهدين بايد پوه شي، چې د افغانستان په امنيتي سکتور کې "اصلاحات" د امنيت د ټينګښت لپاره هېڅ ګټه نه لري، بلکې امريکايي موخو ته د رسېدو لپاره د افغان ځوانانو له انرژۍ او وينې څخه د وسيلې په موخه کار اخيستل کيږي، چې له امله يې امريکايي ځواکونه له جنګي ډګرونو څخه په شا کېږي، تر څو روانه جګړه د مسلمانانو د ځواکونو په وسيله خپله د مسلمانانو پر وړاندې پر مخ بوځي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**